UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**ملګرو ملتونو په افغانستان کې د بشري حقونو په اړه رپوټ خپور کړ (۲۰۲۱ د اګسټ ۱۵– د ۲۰۲۲ د جون ۱۵)**

**کابل، د جولای ۲۰ مه -** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) نن یو راپور خپور کړ (په افغانستان کې بشري حقونه: د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ مې – د۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵مې)، چې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ د ۱۰ میاشتو په موده کې د بشري حقونو وضعیت په ګوته کوي.

رپوټ د ملکي وګړو د خوندیتوب، له محاکمې پرته وژنې، شکنجې او ناوړه چلند، په خپل سر نیول او توقیف، په افغانستان کې د ښځو او نجونو د حقونو، بنسټیزو ازادیو او د توقیف ځایونو د وضعیت په اړه د یوناما موندنې خلاصه کوي. په رپوټ کې واکمنو چارواکو او نړیوالې ټولنې ته سپارښتنې هم شاملې دي.

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له نیمایې څخه د ۲۰۲۲ کال د جون تر نیمایې پورې په وسله وال تاوتریخوالي کې له پام وړ کمښت سره سره، یوناما ۲۱۰۶ ملکي تلفات (۷۰۰ وژل شوي، ۱۴۰۶ ټپیان) مستند کړي دي. د ملکي تلفاتو ډېره برخه " د عراق او شام اسلامي دولت نومې وسله والې ډلې - خراسان ولایت" ته منسوب شوې چې د قومي او مذهبي لږکیو پروړاندې په داسې ځایونو کې ترسره شوي چې هغوی ښوونځیو، عبادت ځایونو ته روان او دورځنې ژوند پرمخ بیولو په حال کې وو.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي سرپرست ځانګړي استازي مارکس پوټزل وویل:" دا ممکنه ده چې ټول افغانان وکولای شي په سوله کې ژوند وکړي او له شل کلنې وسله والې جګړې وروسته خپل ژوند بیا جوړ کړي. زموږ نظارت ښیي چې د اګسټ له ۱۵مې راهیسې د امنیتي وضعیت له ښه کېدو سره سره، د افغانستان خلک په ځانګړې توګه ښځې او نجونې له خپلو بشري حقونو څخه بې برخې دي."

په داسې حال کې چې واکمنو چارواکو د بشري حقونو د ساتنې او ودې په موخه ځینې ګامونه پورته کړي دي، لکه د پخواني حکومت چارواکو او امنیتي ځواکونو بښنه، د ښځو د حقونو په اړه د ډسمبر د ۳ مې فرمان او له بندیانو سره د چلند په اړه قانون، خو دوی همدارنګه د بشري حقونو د پراخو سرغړونو مسولیت پر غاړه لري.

د ښځو د حقونو تر ټولو لاندې کول تر اوسه پورې د واکمنې اداري یو له خورا پام وړ اړخونو څخه دی. د اګسټ له ۱۵ راهیسې، په ښوونه او روزنه کې د بشپړ ګډون، په کار ځای، عام او د ورځنې ژوند په نورو اړخونو کې د ښځو او نجونو ګډون په تدریجي ډول محدود شوی او په ډېرو مواردو کې په بشپړه توګه له منځه وړل شوی. ثانوي دورې ښوونځیو ته د نجونو د نه ورتګ پرېکړه په دې معنی ده چې د نجونو یو نسل به خپل ۱۲ کلن لومړني تعلیمات بشپړ نکړي. په ورته وخت کې، د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره عدالت ته لاسرسی، د رپوټ ورکولو د ځانګړو لارو چارو، د عدالتي میکانیزمونو او سرپناه د له منځه وړلو له وجې محدود شوی دی.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي سرپرست ځانګړي استازي مارکس پوټزل وویل:" زده کړه او په عامه ژوند کې د ښځو او نجونو ګډون د هرې عصري ټولنې لپاره اساس دی. په کور د ښځو او نجونو کېنول افغانستان له هغو مهمو مرستو څخه محروموي چې ددوی لخوا ترسره کیږي. د ټولو لپاره زده کړه نه یوازې د بشر اساسي حق دی، بلکې دا د یوه ملت د رشد او پرمختګ کیلي ده" .

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ په ۱۷ مه، واکمنو چارواکو د پخواني حکومت چارواکو او د افغانستان د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو دغړو لپاره د بښنې اعلان وکړ. په هرصورت، داسې بریښي چې دا بښنه په دوامداره توګه نه ده پلې شوې. یوناما د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ مې د ۲۰۲۲ د جون تر ۱۵مې پورې د واکمنو چارواکو لخوا، له محاکمې پرته د پخوانیو دولتي او امنیتي چارواکو لږ ترلږه ۱۶۰ وژنې مستندې کړې دي.

یوناما د هغه معافیت په اړه اندیښمنه ده چې فکر کیږي د واکمنو چارواکو غړو د بشري حقونو سرغړونې ترسره کړي. د یوناما رپوټ له وسله والو ډلو سره د تړاو په تور له محاکمې پرته د افرادو د وژلو او همدارنګه د اخلاقي جرمونو په تور، د ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکي سزا او د قانون د پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور زیاتي کارونې او له قضا پرته د اشخاصو د وژنو په اړه توضیحات ورکوي. د بشري حقونو سرغړونې باید د واکمنو چارواکو لخوا وڅېړل شي، مرتکبین یې حساب ورکوونکي وګڼل شي، او بالاخره باید په راتلونکي کې د پېښو د بیا تکرار مخه ونیول شي.

د یوناما رپوټ د واکمنو چارواکو د دوو ادارو، د امر باالمعروف او نهی عن المنکر وزارت او د استخباراتو د عمومي رياست په اړه ځانګړې اندیښنې په ګوته کوي. د امر باالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا صادرې شوې ډېرې لارښوونې د افغانانو، په ځانګړې ډول د ښځو او نجونو بشري حقونه او آزادی محدودوي. که څه هم دا ډول لارښووني سپارښتني بلل کیږي، خو ځينې وخت د واکمني اداري چارواکو له دغو لارښوونو د سرغړونې په پار د فزیکي مجازاتو د ترسره کولو په ګډون د هغو په پلي کولو کې سخت درېځ غوره کړی دی.

د واکمنو چارواکو د استخباراتو مسوولین له هغو خلکو سره د سخت چلند له کبله په ګوته شوي چې ازادي يې سلب شوې ده. د یوناما رپوټ د هغو مواردو په اړه توضیحات ورکوي چې د واکمنو چارواکو استخبارات له محکمې پرته وژنو، ځورونو، نا سم چلند او په خپل سر نیونو په ګډون له دوی سره په توقیف کې د شته کسانو پر وړاندې د بشري حقونو په سرغړونو کې دخیل وو.

په دې لسو میاشتو کې چې دوی د افغانستان واک تر لاسه کړی، واکمنو چارواکو د سوله ییزو غونډو د ازادی، د بیان او د نظر د ازادی په اړه خپل دریځ روښانه کړی دی. دوی په خپل سر د خبریالانو، لاریون کونکو او د مدني ټولني د فعالینو د نیولو په ګډون، د لاریونونو په ځپلو او په رسنیزو ادارو د محدودیتونو په وضع کولو سره مخالفت محدود کړی دی.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې فیونا فریزر وویل: "په ازاده توګه د سوله ییزې غونډې د جوړولو حق، د بیان ازادي او د نظر ازادي نه یوازې بنسټیزې ازادی دي، بلکې دغه چارې د یوه ملت د پرمختګ او ودې لپاره اړیني دي. دوی د معنا لرونکو بحثونو غوړېدا ته لار پرانیزي، او همدارنګه هغو کسانو ته چې حکومت کوي، د هغو مسلو او ستونزو په اړه چې خلک ورسره مخامخ دي د ښه پوهیدو له لارې ګټه رسوي."

د توقیف ځایونو په تړاو: داسې ښکاري چې د ۲۰۲۲ کال په جنوری کې د طالبانو د مشر لخوا له نیول شویو کسانو سره د چلند په تړاو د لارښود له خپرېدو وروسته، واکمن چارواکي په دې تړاو د خپلو مکلفیتونو د ترسره کولو په لټه کې دي. مالي محدودیتونه په دې برخه کې د پرمختګ خنډ شویدي، چې له کبله یې کله ناکله، د توقیف شویو کسانو لپاره د خوړو، طبي پاملرنې او د حفظ الصحې د تجهیزاتو کموالی رامنځ ته شوی او د بندیانو لپاره د حرفوي زده کړو او د روزنې پروګرامونه بند شوي چې مخکې د نړیوالې ټولنې لخوا تمویلیدل. دا کار ددې سبب شوی چې په ځینو قضیو کې د قضایي سیستم د فعالیت له امله توقیف شوي کسان له محاکمې وړاندې د اوږدې مودې لپاره په دغو توقیف ځایونو کې پاتې شي.

د بشري حقونو وضعیت په ټول هیواد کې د اقتصادي، مالي او بشري بحرانونو له امله په بیساري ډول خراب شوی دی. دامهال لږ تر لږه ۵۹ سلنه وګړي بشردوستانه مرستو ته اړتیا لري – چې د ۲۰۲۱ کال د پیل پرتله ۶ میلیونه وګړي زیاتوالی ښیي. د یوناما رپوټ پر نړیوالې ټولنې غږ کوي چې د افغانستان له خلکو سره د هغوی د بیړنیو بشري او اساسي اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. پردې سربیره، نړیواله ټولنه مکلفیت لري ترڅو دا ډاډمنه کړي چې د بندیزونو موجودیت، پر بشري حقونو منفي اغیزه نلري .

په رپوټ کې شته موندني او سپارښتنې ترډیره هغه اندیښنې منعکسوي چې په تیرو لسو میاشتو کې د یوناما لخوا له یوشمیر واکمنو بنسټونو سره راپورته شویدي. یوناما تردې مهاله د ښکیلتیا د کچې ستاینه کړې او د واکمنو چارواکو لخوا د ټولو افغان میرمنو، نارینه وو، نجونو او هلکانو د بشري حقونو د ساتنې او ودې په برخه کې د ملاتړ ژمنتیا څرګندوي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي سرپرست ځانګړی استازی مارکس پوټزل وایي: "لکه څرنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا د یوناما د ماموریت په تمدید کې روښانه شوې، افغانستان لاهم د یو دولت په توګه د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو مربوط یو شمیر اسنادوغړی پاته دی. دې موضوع ته په پام سره، زه له واکمنو چارواکو غوښتنه کوم چې زموږ په رپوټ کې په ګوته شویو اندیښنو ته د رسیدو لپاره خپلې ټولې هڅې ترسره او د ټولو افغانانو د بشري حقونو د ساتنې او ودې لپاره خپل نړیوال مکلفیتونه پوره کړي" .

**د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵مې مودې مهمې موندنې:**

د رپوټ ورکولو په دې موده کې، یوناما مستند کړي:

- **۲۱۰۶ ملکي تلفات** (۷۰۰ وژل شوي، ۱۴۰۶ ټپیان) داعش-خراسان ډلې ته منسوب شوي، چې په قصدي توګه د ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو (IED) د بریدونو او د نا چاودو مهماتو (UXO) له امله رامینځته شوي دي.

- د واکمنو چارواکو لخوا، له محاکمې پرته ۱۶۰ وژنې، ۱۷۸ په خپل سر نیونې او توقیفونه، ۲۳ مورده غیر مرتبط توقیفونه **اود پخوانیو امنیتي ځواکونو ANDSF او حکومتي چارواکو** د ځورونې اوناوړه چلند ۵۶ پېښې ترسره شوي دي.

- **" د عراق او شام د اسلامي دولت په نوم ځان معرفي کونکي ډلې ته د منسوبې خراسان څانګې"** سره د تړاو په تور د واکمنو چارواکو لخوا د ۵۹ تنو وژل، په خپل سر د ۲۲ کسانو نیول او توقیف او د شکنجې او بد چلند ۷ پېښې ثبت شویدي.

- **د "ملي مقاومت په نوم د ځان معرفي کونکي جبهې"** سره د تړاو په تور له محاکمې پرته د ۱۸ کسانو وژل، دځورونې او ناوړه چلند ۵۴ پېښې، په خپل سري ډول د ۱۱۳ مورده نیونو او توقیف او د ۲۳ کسانو داسې توقیف شامل دی چې د اړیکې نیولو اجازه یې نه لرله.

- د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې راهیسې د واکمنو چارواکو لخوا، **د ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي ډکو مجازاتو** ۲۱۷ **پېښې** ترسره شوي دي.

- د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ مې د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵مې پورې د واکمنو چارواکو لخوا د **زور زیاتې** ۱۱۸ موارد ثبت شویدي.

- د بشري حقونو سرغړونو **۱۷۳ ژورنالیستان او د رسنیو کارکونکې** اغیزمن کړې، چې له دې ډلې یې ۱۶۳ پېښې واکمنو چارواکو ته منسوب شوي دي. په دې ډله کې ۱۲۲ په خپل سر نیونې او توقیف، ۵۸ مورده ناوړه چلند، ۳۳ د ګواښ او تهدید او ۱۲ داسې توقیفونه شامل دي چې د اړیکې نیولو اجازه یې نه لرله.[1] په دغه موده کې شپږ خبریالان وژل شوي (پنځه تنه یې د داعش خراسان ډلې لخوا چې ځان ته د عراق او شام د اسلامي دولت څانګه وایې او یو تن یې د نامعلومو مرتکبینو لخوا).

- د بشري حقونو سرغړونو، **د بشري حقونو ۶۵ مدافعین** اغیزمن کړیدي، چې ۶۴ پېښې یې واکمنو چارواکو ته منسوبې شویدي. په دغه ډله کې ۴۷ په خپل سرنیونې، ۱۷ داسې توقیفونه چې د اړیکې نیولو اجازه یې نه لرله، د ناسم چلند ۱۰ پېښې او د ګواښلو او ویرولو ۱۷ پېښې شاملې دي.

* * *

[1] په داسې حال کې چې یو فرد ممکن له یو څخه زیاتو سرغړونو سره مخامخ شوی وي (د بېلګې په توګه، یو کس ممکن په خپل سر نیول شوی وي، له هیڅ ډول اړیکې نیولو پرته ساتل شوی، شکنجه شوی اویا ګواښل شوی وي)، د سرغړونو شمیر د اغیزمنو شویو کسانو له شمیر څخه لوړ دی.